انجنیر سیدعبدالقادر

۲۱ فبروری ۲۰۱۵

## په وطن کي داختلاس او رشوت له منځه وړل څه وخت کیدلایسي ؟

ددي سوال ځواب باید په دقیق ډول ولټول سي ۰ په تیر ه اوني کي دمختلیفو شخصیتونو په فیسبوکونو کي مو ولیدل چي ، پر ولس او وطن باندي یي دزړه سوي له کبله دهند په سفارت ، دملي دفاع ، او دتجارت په وزارتو نو کي داختلاس او رشوت ښکاره بیلګي په ګوته سوي او یا وبهر ته دلوي ځارنوال او دکابل دښاروال د تیښتي په هکله یی ځنی اندیښني ځرګنده سوي وي ۰

پدي اړوند مختلیفو افغانانو ددولت څخه دموضوع دتحقیق په هکله غوښتنه کړي وه ۰ که دي حیاتي او حساسي موضوع ته په دقت نظر ورواچوو ، معلومیږی چي دا حاکمیت د ۲۰۰۱ کال دبن داستعماري کنفرانس دزیږنده حاکمیت تسلسل دي. نو دداسي رژیمونو اساس او بنځت پر بهرنیو او کورنیو مافیایي ډلو باندي ولاړ وي ۰ نو دیو څو لیکونو او غوښتونو له لاري نه سي کیدلاي چي ددي ستر جنایت مخه ونیول سي ۰ځکه چه دافغانستان په څیر هیوادونو کي امریکایي استعماري حاکمیتونه غواړي یوه نوی مصنوعي سرمایه لرونکي حاکمه طبقه رامنځ ته کړي، ددي لاری څخه دوي دنورو ګټو تر څنګ دوی عمده ګټي په لاس راوړی۰ لومړي دهغه مملکت ملي شتمني دخپلو لاس پوڅو له خوا تر ۵۰٪ ډیره وخپلو استعماري شرکتونو ته مفته انتقالوي ۰ دوهمه ګټه یي داده چي په نړیواله سطح کي یي خپل هم ړغي نوي مافیایي حاکمیت رامنځ ته کړي وي ۰ چي په دانیژدي دوولسیزو کي یي څو بیلګی دیخواني یوګوسلاویا څخه جلاسوي یو شمیر حاکمیتونه ، دبالتیک دري هیوادونه دشرقي اروپا څو هیوادونه او هم که امپریالستي نړي کامیابي ته ورسیږي نو عراق او لیبیا هم په دي قطار کي راتلایسي ۰

با ید ووایو چه نړیواله اقتصادي ، سیاسي او پوځي وضع داسي په ګوته کوي ، چي دامپریالستي یو قطبي نړي دموتړ ماشین نور دکاره لویدلي اونور نه سي کولاي چي په نړي کي خپلو شومو اهدافو ته ځانونه ورسوي، دا ځکه چي امریکا خپل پخواني اقتصادي توان له لاسه ورکړي او نیژدي ۱۸ تریلونه ډالره قرضداره او د۸۰ کالو راهیسي دبودجي دشدید کسر سره مخامخ ده ۰ دیورتنیو څو ټکو په نظر کي نیولو سره زما له نظره که دسیاسي حل له لاري ودی لاس پوځي رژیم ته دپای ټکي کښینوول سي ، دولس په ګټه به وی ۰ چي په دي حالت کي به نه یوازي دجنایتکارو سره حساب تر سره سي ، بلکه دراتلونکو ناخوالو مخه به هم نیول سوي وي ، چي په دي لاره کي دمستقلو روښنفکرانو تر څنګ دملي ګوندونو یووالي او ددوي سیاسي مبارزي ته هم شدیده اړتیا لیدل

کيږي ٠ په دی شرط که په نوي رژيم کښي د٪ ٥٠ په ډيره برخه کي دخلګو اراده ځرګنده سوي وي ، نو کيدلايسي چی دتيرو دوو لسيزو مافيايي کړی چی ١٩٩٢ او ١٩٩٦ کال کي يي دنور چور او چپاول تر څنګ ٣٥٠ دولتي الوتکي او (١٢٠٠٠٠)دولتي موټران او پوځي وسايط په بهر کي پر خپلو اربابانو خرڅ کړي او يا تحفه کړي دي ٠ او هم ٢٠٠١ کال څخه دي مافيايي ډلو چه دغربي نړي په نوي شکل او لاره اختلاسونه او دمځکو غصب کړي دي ، دهغوی دوسيی بايد په مرکز اوولاياتو کي دځانګړو محکمو له لاري بررسي او عاملين يي مجازات سی ، او قدم په قدم ولس ځني خبر سي ٠ بايد وويل سی ، چی په تيرو ١٣ کلونو دماليي ، دتجارت دوزارتونو او د تجارت داطا ق چا رواکی نه يوازي دولس له خواپه لويو اختلاسونو با ندی متهم دی ، بلکه په بشري جناياتو باندي هم متهم بلل سويدی٠ داځکه چه هر کا ل يوا ځی د کابل په ښا ر کی دعا می روغتيا دوزارت دنوي راپور له مخي تر دري زرو ډيرکسان خپل خوږ ژوند ځکه دلاسه ورکوی ، چی اکثره خوراکی موادی يي تروخت تير اويا دککړي هوا له کبله چی دناپاکو تيلو داستعمال په نتيجه کي منځ ته راغلي ده تنفس کوي يی٠ ځکه نو پورتنيو درو ادارومسوولين دنورو وزارتونوديوشميرچاروا کو ترڅنګ هم په بشري جناياتو باندی متهم بلل کيدلايسي ٠تمت باالخير ٠

٢٠ ـ ٢ ـ ٢٠١٥

***يادداشت:***

*ما را عقیده بر آن است که آنچه در افغانستان مستعمره می گذرد، نتیجۀ خوبی و یا بدی این و یا آن فرد نیست تا با جایگزینی احمد به جای محمود و یا جمعی روشنفکر امکان اصلاح آن باشد، بلکه روند حیات کنونی در کشور متأثر از حالت واقعی آن، یعنی اشغال به وسیۀ نیروهای اشغالگر و مستعمره بودن آن می باشد.*

*در نتیجه تا زمانی که استعمار در افغانستان وجود دارد و مقدرات کشور ما را تعیین می دارد، «همین آش است و همین کاسه» و نمی توان کمترین امیدی به بهبود آن داشت. یگانه راه نجات کشور از تمام مصایب، بیرون انداختن اشغالگران و ایادی خود فروختۀ داخلی آن از مام میهن و ایجاد افغانستان مستقل و آزاد به جای آن است. افغانستانی که در آن آزادی بستر دموکراسی و دموکراسی و حاکمیت مردم، حافظ آزادی و استقلال آن باشد.*

*بدان امید*

*ادارۀ پورتال AA-AA*